# د خان عبدالولي خان

# ژوند ته یوه سرسري کتنه

مشتاق مجروح یوسفزے

د پښتنو د ستر ملي رهبر فخر افغان عبدالغفار خان دوېم ځوي خان عبدالولي خان چې د پاکستان په سیاست کښې کوم مقام حاصل کړے دے هغه تر اوسه په پاکستان کښې بل هیڅ یو سیاسي لیډر نۀ دے حاصل کړے. خان عبدالولي خان د خپل پلار فخر افغان د سیاسي لارې هغه لاروے دے چې په خپل سیاسي سفر کښې د بې شمېره خنډونو سره مخ شوے دے او په خپله لوړه حوصله، بلند همت او بې پناه سیاسي بصیرت ئې هغه خنډونه لرې کړي او مخکښې تللے دے.

په پاکستان کښې د بنیادي انساني حقونو او د جمهوریت دپاره د ولي خان کړې هلې ځلې د هیچا نه پټې پناه نۀ دي. بې‌شمېره ځله جېل ته تللے او د وخت د آمرانو حاکمانو د لاسه بېشانه کړېدلے او ځورېدلے دے ولې تر مرګه هیڅ یو ظالم او جابر په دې کښې کامیاب شوے نۀ دے چې هغه د خپلې لارې واړوي. د پاکستان په سیاست کښې اکثر سیاسي خلق څۀ نا څۀ داغدار شوي دي ولې د پښتنو د دې نر لیډر لمن د هر قسمه داغ نه بیخي پاکه ده. د حکومت له خوا پرې قسم قسم الزامونه لګېدلي دي خو حقیقت دا دے چې دغه الزام لګونکي چرې هم په خپل مقصد کښې کامیاب شوي نۀ دي.

داسې پښتون به نۀ وي چې خان عبدالولي خان به نۀ پېژني یا به د هغۀ د سیاسي کارنامو نه ناخبره وي. مونږ د ګرانو لوستونکو په علم کښې د هغوي متعلق د نورې اضافي کولو په غرض د هغوي د ژوند او د سیاسي هلو ځلو متعلق کُوټلي او پوره معلوماتو وړاندې کولو یو کوشش کوو.



پېدائش : د پښتون سياست د اسمان دا ځلنده نمر په دسمبر كال 1915 كښې د فخر افغان عبدالغفار خان په كور كښې د چارسدې ضلعې په اتمانزو كلي كښې وځلېد. د دوي د مور نوم مهرقنده وه چې د رځړو د يار محمد خان لُور وه او باچا خان سره ئې وادهٔ په كال 1912 كښې شوے وهٔ. د باچا خان مشر ځوے عبدالغني خان په 1913كښې پېدا شوے وهٔ. د ولي خان نه پس د هغهٔ خور په كال 1917 كښې پېدا شوې وه. په كال 1918كښې د خان عبدالولي خان مور بي بي د انفلوئنزا په وبا وفات شوه. د باچا خان د خپلې وينا مطابق چې كله د عبدالولي خان مور بي بي وفات كېده نو هغه وخت عبدالغني خان د پينځو كالو، عبدالولي خان د درېوو كالو او د هغوي خور مهرتاجه د يو كال وه.

خان عبدالولي خان په خپل كتاب Facts are Facts كښې خپل د پېدائش كال 1917 ليكلے دے كوم چې صحيح نهٔ ښكاري. ځكه چې په كومه وبا كښې د عبدالولي خان مور بي بي وفات شوې وه د هغې وبا كال باچا خان 1918 ياد كړے دے او دغسې ولي خان خپله هم په خپل كتاب كښې دغه كال 1918 يادوي. لكه چې اګاهو ذكر وشو د دغې وبا په ذكر كښې باچا خان د غني خان د ناجوړتيا ذكر كوي او كله چې ئې مور وفات كېږي نو د درېوو وارو بچو عمرونه هم ښيي. اوس كهٔ د ولي خان وركړے د پېدائش كال 1917 صحيح ومنو او ورسره دا خبره هم چې د هغوي مور په 1918 كښې وفات شوې وه نو د ولي خان د خور مهرتاجې عمر په 1918 كښې د مور د وفات په وخت څنګه يو كال كېدے شي؟ ځكه نو صحيح خبره دا ده چې د باچا خان وړومبے ځوے عبدالغني خان د وادهٔ نه كال پس په 1913 كښې، خان عبدالولي خان په 1915كښې او مهر تاجه په 1917كښې پېدا شوې وه. ممكنه ده چې په سكول كښې د داخلولو په وخت د ولي خان د پېدائش كال 1917 درج كړے شوے وي او ولي خان د هغې په بنياد وئيلي وي.

تعليم : ولي خان د خپل ابتدائي تعليم حاصلولو د پاره د باچا خان په شروع كړي "ازاد هائي سكول اتمانزو" كښې په كال 1921 كښې داخل كړے شو. په دغه سكول كښې به ډرامې هم كېدلې ولي خان په وړومبي ځل په كال 1927 كښې د عبدالاكبر خان اكبر په مشوره په سټېج ډرامه "درې يتيمان" كښې د مشر ورور كردار ادا كړو. په كال 1929كښې ولي خان په خدائي خدمتګار تحريك كښې حصه اخستل شروع كړل. د مئ په مياشت كال 1930كښې چې د پېرنګيانو حكومت په اتمانزو كلي كومه حمله كړې وه په هغې كښې ولي خان د يو پېرنګي سپاهي د لاسه د قتل كېدو نه بچ شو.

اعلي تعليم : په كال 1931كښې د اعلي تعليم د پاره ډېره دون (يو پي) هندوستان ته ولېږلے شو. دغه سكول به د آئرلېنډ حكومت چلولو. په كال 1933 كښې ولي خان د دغه سكول نه د سينيئر كېمبرج ډګري واخسته خو د سترګو د بيمارۍ له وجې ئې نور تعليم جاري ونهٔ ساتلے شو. په هم دغه كال د ډېره دون هندوستان نه واپس كلي ته راغلو او د كور ذمه واري ئې په خپل سر واخسته ځكه چې

دغو ورځو کښې باچا خان د پېرنګي حکومت له خوا په جېل کښې بندي وۀ.

د ګاندهي جي پښتونخوا ته راتګ: په کال 1938 کښې چې ګاندهي جي د سرحد په دوره راغلے وۀ نو ولي خان ورسره په ټولو علاقو ګرځېدلے وۀ او د هندوستان دغې لويې هستۍ سره د نزدې پاتې کېدو او خبرو اترو لويه موقع په لاس ورغلې وه.

د سياسي ژوند شروع : هسې خو خان عبدالولي خان د يوې سياسي کورنۍ فرد وۀ سياست د هغۀ په خټه کښې اغږلے شوے وۀ خو په باقاعده ډول په کال 1942 کښې هغۀ خپل سياسي ژوند شروع کړو او په خپل کلي کښې د خدائي خدمتګار جرنېل زيارتي کاکا په لاس په خدائي خدمتګار تحريک کښې د رضاکار په حېثيت برتي شو. هم په دغه کال سالار اعظم امين جان د فدا محمد او ماسټر عبدالکريم سره د کوهاټ ضلعې په دوره ولېږلو چې د دغې علاقې خلق د حکومت خلاف رابېدار کړي.

وړومبۍ ګرفتاري : په کال 1943کښې خان عبدالولي خان په وړومبي ځل حکومت د سول نافرمانۍ د کوشش کولو په وجه ګرفتار کړو او د ايف سي آر د لاندې ئې درې کاله قېد کړو او ډېره اسماعيل خان جېل ته ئې ولېږلو.

د ټکټ اخستو نه معذرت: په کال 1945 کښې د کانګرس صوبائي پارليماني بورډ يوه فېصله وکړه چې ولي خان د سرحد Imperial Legislative Council د سيټ دپاره ودروي ولې هغوي معذرت وکړو او د دوي مشر ورور عبدالغني خان ته دغه ټکټ ورکړے شو. په کال 1946 کښې بيا دغه ټکټ ولي خان ته د ورکولو فېصله وشوه خو ولي خان معذرت وکړو او وې وئيل چې زۀ ډېر کم عُمره يم او دا د مشرانو ليډرانو دپاره دے.

د آل انډيا کانګرس ممبرشپ: په کال 1947 کښې ولي خان د آل انډيا کانګرس رکن شو او د صوبه سرحد د کانګرس جائنټ سېکرټري منتخب شو او تر پاکستان ازادېدو پورې په دغه عهده پاتې شو.

وادۀ : په کال 1944 کښې خان عبدالولي خان د خپلې ترور د لُور تاجو سره وادۀ وکړو. دغه وخت د دوي عمر 29 کاله وۀ.

بيا ګرفتارېدل: په کال 1948 کښې ولي خان د پاکستان جوړېدو مخالفت او د پښتونستان جوړولو په "تور" کښې د خپل پلار او نورو ډېر خدائي خدمتګارو سره ګرفتار کړے شو. جائداد ئې ضبط شو او د نامعلومه وخته پورې هري پور جېل ته ولېږلے شو.

وړومبے اولاد : په اتلسم مارچ کال 1945 کښې د ولي خان لُور نسرين بي بي پېدا شوه.

دوېم اولاد : د ولي خان دوېمه لُور پروين بي بي په فروري 1947 کښې پېدا شوه.

د ټبر وفات او درېم اولاد: په څوارلسمه فرورۍ 1949 کښې د ولي خان دوه غبرګوني بچي پېدا شو. يو بچے اسفنديار خان ژوندے پاتې شو او بل ماشوم او ټبر ئې وفات شُو. دغه وخت ولي خان د جېل نه په پېرول ازاد کړے شوے وۀ. د اسفنديار خان پالنه نيا (د مور مور) وکړه.

د مچ جېل ته تلل: په کال 1949 کښې د هري پور جېل نه د مچ جېل ته بدل کړے شو.

**سبي جېل ته منتقلي:** په کال 1950 کښې ولي خان سره د قاضي عطاالله سبي جېل ته منتقل کړے شو.

**د کوئټې جېل ته:** په مارچ 1951 کښې د کوئټې جېل ته ولېږلے شو ځکه چې ناجوړه شوے وۀ.

**دوباره هري پور جېل ته تلل:** په کال 1952 کښې بيا هري پور جېل ته بدل کړے شو. چې بيا وروستو هم په هغه کال د هري پور نه ډېره اسماعيل خان جېل ته ولېږلے شو.

په اتم دسمبر 1952 د کمشنر مقرر قېد په ډېره اسماعيل خان کښې پوره شو. ولي خان فېډرل کورټ ته د جېل نه د ازادېدو دپاره درخواست وکړو ځکه چې دوي حکومت بې د څۀ مقدمې او بغېر د څۀ ټاکلي وخت نه په جېل کښې ساتلي وو. په دغه دوران کښې ډېر خدائي خدمتګاران مړۀ شوي وو چې يو پکښې قاضي عطاالله هم وۀ.

په کال 1953 د مارچ په مياشت کښې بيا د هري پور جېل ته منتقل کړے شو او اخر په څوارلسم نومبر 1953 ازاد کړے شو.

**دوېم وادۀ:** خان عبدالولي خان د مردان د مشهور خدائي خدمتګار امير محمد خان د لُور نسيم بي بي سره په 22 نومبر کال 1954کښې وادۀ وکړو. دغه وخت باچا خان په خپله صوبه بند وۀ نو ډولۍ د اټک ريسټ هاؤس ته يوړې شوه او نکاح ورله خپله باچا خان وتړله. هم په دغه کال ولي خان د شاهي باغ کور په ښه طريقه جوړ کړو.



**د وزارت نه انکار:** ولي خان يو ځل بيا په سياست کښې قدم کېښود. د هغه وخت وزير اعظم محمد علي بوګره د ولي خان نه ډېر متاثره شوے وۀ ځکه نو ورته ئې په وفاق کښې د يو وزارت پېشکش وکړو خو دوي ئې د قبلولو نه انکار وکړو. وروستو بيا دغه پېشکش ورته سکندر مرزا هم وکړو ولې د هغې نه ئې هم چوټ انکار وکړو.

**د ون يونټ خلاف جدوجهد:** کله چې د ون يونټ نظام وضع شو نو د هغې د ماتېدو دپاره باچا خان کوششونه شروع کړل په دغې جدوجهد کښې ولي خان هم د بابا سره ملګرے وۀ.

**نېشنل عوامي پارټي کښې شموليت:** ولي خان د خپل پلار باچا خان او نورو قام پرستو په 1956 کښې جوړه کړې شوې پاکستان نېشنل پارټۍ کښې شموليت اختيار کړو. په دې پارټۍ کښې د جي ايم سيد سندهـ محاذ، د خان عبدالصمد خان ورور پښتون، د حېدربخش جتوئي هاري کمېټي، د شهزاده عبدالکريم استمان ګل او د ميا افتخار الدين ازاد پاکستان پارټۍ شاملې وې. چې بيا وروستو په

کال 1957 کښې د عوامي لیګ دوه ځایه کېدو نه پس مولانا عبدالحمید بهاشاني ورسره هم ملګرے شو او د پارټۍ نوم نېشنل عوامي پارټي غوره کړے شو.

ګرفتاري : په کال 1958کښې چې ایوب خان مارشل لا ولګوله نو ټولې سیاسي پارټۍ ئې نا اهله وګرځولې او زیات سیاسي لیډران ئې ګرفتار کړل. ولي خان هم ګرفتار کړے شو.

د نېشنل عوامي پارټۍ صوبائي صدارت: د عوامي نېشنل پارټۍ صوبائي صدر ارباب سکندر خان خلیل وۀ او هغه دغه ورځو کښې په صوبه کښې نۀ وۀ نو ولي خان د پارټۍ صوبائي صدر مقرر شو. هم په دغه کال ولي خان د ایوب خان د مارشل لا خلاف په ټوله صوبه کښې وګرځېدو او د مارشل لا خلاف ئې یو تحریک شروع کړو چې د نېشنل عوامي پارټۍ قېدي شوي مشران خوشې کړي او په خپل دغه کوشش کښې کامیاب شو. په کال 1964 کښې ولي خان په صدارتي انتخاباتو کښې د ایوب خان په مقابله کښې د قائد اعظم د خور فاطمه جناح ملګرتیا وکړه. په دې الېکشن کښې فاطمه جناح په پښتونخوا صوبه کښې د الېکشن کمپېن چلولو ذمه واري هم دوي ته وسپارله. ایوب خان په دغې انتخاباتو کښې هره ناجائزه حربه استعمال کړه او نتیجه دا شوه چې ایوب خان صدر منتخب شو.



د نېپ مرکزي صدارت: په جون 1968کښې ولي خان د مولانا بهاشاني په ځائے د نېشنل عوامي پارټۍ مرکزي صدر منتخب کړے شو ځکه چې مولانا بهاشاني په صدارتي الېکشن کښې د ایوب خان مرسته کړې وه.

ګرفتاري : په کال 1968 کښې په دیارلسم نومبر ولي خان په پېښور کښې په ایوب خان د قاتلانه حملې په جُرم کښې ګرفتار کړے شو او ساهیوال جېل ته ولېږلے شو. چې په مارچ 1969 کښې پرېښودے شو.

د ون یونټ ماتول : د ولي خان په کوششونو جنرل یحیی خان په 1969 کښې ون یونټ مات کړو او بلوچستان ته د یوې نوې صوبې حېثیت ورکړے شو.

قومي او صوبائي سیټونه ګټل: د 1970 په عام انتخاباتو کښې ولي خان د چارسدې نه د خپلې حلقې نه د قامي او صوبائي اسمبلۍ دواړه سیټونه د نېشنل عوامي پارټۍ په ټکټ وګټل.

مشرقي پاکستان ته تلل: په کال 1970 کښې ولي خان وړومبے سياست دان وۀ چې د مشرقي پاکستان د سېلاب زپلو او قات زپلو سره د غمرازۍ ښکاره کولو د پاره هلته لاړو. په واپسۍ کښې د کراچۍ په ائر پورټ د يو سوال په جواب کښې ولي خان ووئيل چې "زما په خيال په دې انتخاباتو کښې به عوامي ليګ 90او 95 فيصد سيټونه ګټي" نو يو ډېر سينئير صحافي په دې خبر د تبصرې په وخت ووئيل " شايد چې د ولي خان دا وړومبے غېر ذمه دارانه بيان دے". خو چې کله د انتخاباتو نتيجې اعلان شوې نو په 162 کښې 160 سيټونه عوامي ليګ ګټلي وو.

د بوټو ولي باغ ته راتلل: په 1971 کښې ذوالفقار علي بوټو پېښور ته راغے او ولي خان سره ئې ملاقات وکړو چې د عوامي ليګ خلاف د هغوي اعتماد حاصل کړي خو ولي خان ورته صفا انکار وکړو او ورته ئې ووئيل چې د دې خبرو ځائے اسمبلي ده. بوټو صېب ولي خان ته ووې کۀ تۀ زما ملګرتيا نۀ کوې نو زۀ به د اسمبلۍ د اجلاس نه بائيکاټ وکړم. ولي خان هغۀ د دې د نقصاناتو نه خبر کړو او ورته ئې ووې چې دا به د پاکستان د ختمولو آغاز وي.

په هم دغه کال ولي خان د علاج د پاره لندن ته لاړو. خو هم په دغه کال د يحيي خان په وېنا د لندن نه واپس راغے او نيغ ډاکې مشرقي پاکستان ته لاړو. د ولي خان په مشرۍ کښې نېشنل عوامي پارټۍ په مشرقي پاکستان کښې فوځي مداخلت غلط وګرځولو. و ولي خان په کوششونو شېخ مجيب الرحمان مذاکراتو ته تيار شو خو دې پله يحيٰي خان او د هغۀ مشيرانو د فوجي اپرېشن اجازت ورکړو. دغې اقدام سره حالات ډېر خراب شو او نتيجه ئې دا شوه چې په اوولسم دسمبر 1971 مشرقي پاکستان زمونږ نه لاړو. په شلم دسمبر يحيٰي خان استعفٰي ورکړه او حکومت ئې بوټو صېب ته وسپارۀ. د دې نه اګاهو په شپږويشتم نومبر يحيي خان په نېشنل عوامي پارټۍ بندېز لګولے وۀ.

بوټو سره ملګرتيا: ولي خان د نوي مارشل لا اېډمنسټرېټر ذوالفقار علي بوټو سره يوه معاهده وکړه چې ورته Tripartite Agreement وئيلے شي. د دې په بنياد به بوټو صېب د ملک نه مارشل لا لرې کوي او د جمهوريت راوستو کوشش به کوي او دې سره سره به د نېشنل عوامي پارټۍ نه پابندي ختموي او سرحد او بلوچستان کښې به د جمعيت العلماء سره به شريک حکومتونه جوړوي.

د اپوزيشن ليډري: په کال 1973کښې خان عبدالولي خان د يونائټډ ډيموکرېټک فرنټ مشر او د بوټو د حکومت خلاف په قامي اسمبلۍ کښې د اپوزيشن ليډر وټاکلے شو.

د لياقت باغ واقعه: په کال 1973 کښې په لياقت باغ کښې د ولي خان په مشرۍ کښې جلسه وه چې د بوټو د حکومت له خوا پرې حمله وشوه ډېر کسان پکښې شهيدان شو. ولي خان په دغه موقعه بچ شو.

د 1973 آئين: په مارچ 1973 کښې ولي خان د بوټو صېب سره د 1973 په آئين جوړولو کښې مرسته وکړه.

د شېرپاؤ په قتل کښې ګرفتاري: په کال 1975 کښې د فرورۍ په اوومه نېټه د سرحد ګورنر

حيات محمد خان په يو بم چاودنه کښې مړ شو. د هغهٔ د قتل تور په ولي خان او نېشنل عوامي پارټۍ ولګولے شو. په اتمه فرورۍ ولي خان هغه وخت ګرفتار کړے شو چې کله دوي د حيات محمد خان شېرپاؤ جنازه کښې د شرکت کولو دپاره د لاهور نه پېښور ته راروان وو. وړومبے د پنډۍ جېل ته بيا ساهيوال جېل ته او په اخر کښې حېدر اباد جېل ته ولېږلے شو.

په نېشنل عوامي پارټۍ بنديز: په کال 1975 کښې په لسمه فرورۍ په نېشنل عوامي پارټۍ بنديز ولګولے شو. دفترونه ئې بند او ريکارډ ئې وسوزولے شو. په جون کښې د خان عبدالولي خان خلاف يو رېفرنس سپريم کورټ ته ولېږلے شو چې په دې پارټۍ او د دې په کار کونکيو باندې بنديزونه ولګوي. د دې دپاره په ولي خان بېشمېره کېسونه جوړ کړے شي چې پکښې مشهور کېس د حېدراباد واله کېس وۀ. په کال 1976 کښې ولي خان سپريم کورټ ته د خپل کېس په سلسله کښې بوتلے شو.

د ضياء الحق مارشل لا: په کال 1977 کښې جرنېل ضياء الحق مارشل لا ولګوله. هغهٔ د ولي خان سره په حېدراباد جېل کښې ملاقات وکړو. د جرنېل ضياء الحق په وېنا ولي خان په دسمبر 1977کښې د جېل نه آزاد کړے شو.

اېن ډي پي کښې شموليت: خان عبدالولي خان د شېرباز مزاري په نېشنل ډېموکرېټک پارټۍ کښې شموليت اختيار کړو هغوي ورته د صدارت پېشکش وکړو خو دوي ونۀ منله.

د ضياء الحق مخالفت: د الېکشن د وعدې نه د وروستو کېدو له وجې ولي خان د ضياء الحق مخالفت شروع کړو.

د ايم آر ډي تحريک: په فرورۍ 1981 کښې د ضياء حکومت خلاف يو تحريک د Movement for the Restoration of Democracy شروع کړے شو.. په دې کښې ډېرې پارټۍ شاملې وې. ولي خان د دې وړومبے کنوېنر مقرر کړے شو.

د اېن ډي پي صدارت: په 1984 کښې د اېن ډي پي صدارت ور په غاړه شو. هم په دغه کال د مېرمن نسيم سره کابل ته د باچا خان ملاقات له لاړو.

د کانګرس په سل کليز تقريب کښې ګډون: په شپږويشتم دسمبر 1984 کښې ولي خان د باچا خان سره د کانګرس د سل کليز تقريب دپاره هندوستان ته لاړو.

عوامي نېشنل پارټي: په 1985کښې عوامي نېشنل پارټي جوړه کړې شوه چې اولنے صدر ئې ولي خان مقرر کړے شو.

رښتيا رښتيا دي: په 1987 کښې د ولي خان مشهور کتاب مارکيټ ته راغلو. هم په دغه کال په دوېم ځل د عوامي نېشنل پارټۍ صدر منتخب شو.

په کال 1988 کښې په ولي خان فاروق قرېشي اردو کښې د ولي خان او قراردار پاکستان په نوم يو کتاب وليکلو. په هم دغه کال عوامي نېشنل پارټۍ په عام انتخاباتو کښې په الېکشن کښې برخه واخسته. ولي خان په دې انتخاباتو کښې صوبائي سيټ بائلو ولې د قامي اسمبلۍ سيټ ئې وګټلو.

د شېرپاؤ سره شريک حکومت: په 1988 کښې عوامي نېشنل پارټۍ په صوبه سرحد کښې د پاکستان پيپلز پارټۍ سره شريک حکومت جوړ کړو.

د بابا وفات : په 1988 کښې په شلمه جنورۍ د ولي خان پلار او د پښتنو ستر قامي مشر فخر افغان خان عبدالغفار خان وفات شو.

په انتخاباتو کښې ناکامي: په کال 1990 کښې خان عبدالولي خان په وړومبي ځل د مولانا حسن جان په مقابله کښې په انتخاباتو کښې ناکام شو. هم په دغه کال دوي سياست ته په مخه ووې.

په 1991کښې ولي خان د عوامي نېشنل پارټۍ رهبر تحريک مقرر کړے شو.

دوېم کتاب : په مارچ 1993 کښې د ولي خان دوېم کتاب باچا خان او خدائي خدمتګاري وړومبے ټوک چاپ شو. په کال 1994 کښې ئې دوېم ټوک چاپ شو.

اخري خطاب : په مئ 1998 کښې د جهانګيري په مقام د کالا باغ ډېم جوړولو خلاف په يوه جلسه کښې ولي خان خپل اخري خطاب وکړو. هم په دغه کال د باچا خان او خدائي خدمتګاري نومے کتاب درېم جلد چاپ شو او په 1999 کښې د باچا خان او خدائي خدمتګاري څلورم جلد چاپ شو.

په 2004 کښې د ولي خان د وړومبي کتاب رښتيا رښتيا دي انګرېزي ترجمه Facts are Facts چاپ شو.

په مارچ 2005 کښې ولي خان ناروغه شو او په شپږويشتمه جنورۍ کال 2006 سحر پينځلس منټه د پاسه اووۀ بجې وفات شو. د ولي خان د وصيت مطابق د چارسدې مشهور مولانا صاحب حق ئې د جنازې مونځ ادا کړو او په اوويشتمه جنورۍ ماښام په ولي باغ کښې خاورو ته وسپارلے شو.